مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: ډاکټر مهندس حشمت الله اتمر ۲۰۲۳/۰۷/۱۳

# حشمت خان د کلا معماري (مهندسي یا ارکیتیکچر)

لمړۍ برخه

**ننتوزی:**

کابل ښار یو د دنیا د زړو ښارونه څخه شمېرل کېږی چې ۳۵۰۰ کلن تاریخ لري، دا ښار په ورستویو وختونو کي په څو برخو و وېشل شو، هرې برخي ته یي ولسوالی و ویل شو، په نږدې وختونو کي د ښار مرکز په څو برخو و وېشل شو چي نوم یې پرې ناحیه کېښوده.

غواړم چي پر اتمه ناحیه لږ څه تم شم، چی په دې ناحي کي خورا ډېر تاریخي ودانی او کلا ګاني شتون لري، د دي کلا ګانو تاریخ تر پنځه سوو کلونو نه هم ډېر دی.

په دي ناحي کي ډېرې زړې کلا ګاني شتون لری لکه:

د حشمت خان کلا، د احمد خان کلا، شیوکي کلا، بت خاک کلا، خورد کابل کلا او داسي نورې مهمي او تاریخي کلا ګاني دي، د وخت په تېرېدو سره ډېرې (زیاتره) برخي یي نړېدلي دي، هېڅ تن د یادو شویو کلا ګانو په بیا رغوني کي برخه نه ده اخیستې او د افغانستان د کلتور او فرهنګ وزارت هم ورته پاملرنه نه ده کړې.

د پورته یادو شویو کلاګانو د لړ نه هم یوه د حشمت خان کلا (قلعه حشمت خان) په نوم مشهوره ده.

**د حشمت خان کلا:**

حشمت خان یو د محمد زایي له کورني څخه و چي ډیر پخوا وختونو کي کابل ښار ته راغلی او په یادې سیمي کي چي ډیره ښکلي هوا، اوبه او شاو خوایي د کښت ځمکي در لودي، ژوند کوه.

د هغه د ښځي نوم، بی بی هما وه، هغوی یوه لور درلوده چي نوم یې، بی بی صحرا وه.




د حشمت خان د کلا هوايي انځور



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

د کلا شاو خوا يې سل ګونه جريبه ځمکه درلوده چې په لږ وخت کې د چينې د او په ذريعه اوبه کېدې، دا چينه د شير دروازه غره (کوه شير دروازه) په يو خوړ کې چې (قول چشمه) نوميده، موقعيت در لوده.



د (قول چشمه) چينې خوړ، انځورونه

د دې چينې او به به د پخې ختو بلو لونو(پايپونو) په ذريعه لاندې حوض ته بهېدې (توېدې) او هلته به په يوه حوض کې ټوليدې، دا حوض د يو کوچني بند حيثيت در لود، بيا به د اړتيا په وخت کې هغو اوبو نه د ځمکو خړوب له پاره ګټه اخيستل کيده.
د وخت په تيريدو سره د چينې اوبه لږی شوې، حشمت خان مجبور شو چې د ارهټ (ارت، لويه څاه) د کيندلو امر وکړئ.
هغه دوه ارهټونه وکيندل چې يو يې بره او بل يې کوزه د چينې په لمنه کې و.
برنی ارهټ وروسته له شلو کلونو څخه وچ شو مګر کوزنی ارهټ تر نږدې کلونو پورې اوبه درلودې.
د ارهټونو اوس، کومې نښې نشته اما د سيمې سپين ږيري وايي:
د وخت په تېرېدو سره ډيرى برخې ځمکې د حشمت خان د لمسيانو له خوا خرڅې او په هغه کې د هستوګنې کورونه جوړ شول، نو ځکه هغه ارهټونه هم له خاورو او تيږو نه ډک شول.
حشمت خان د کچه لارې نه لاندې يو ډير ښکلی او په زړه پورې بڼ (باغ) درلود، چې دا بڼ تر لس کاله دمخه هم شتون مګر هغه يې په يوکس پلورلی و، چې نوم يې حاجي جمعه خان و، دا بڼ وروسته د هغه په نامه (باغ حاجي جمعه) ياد او مشهور شو.
په تيرو کلونو کې دا بڼ هم په خلکو خرڅ او د هستوګنو په نمرو واړول (تبديل) او کورونه په کې جوړل شول، مګر د ده بڼ په يوه ختيزه څنډه کې د بڼوالو کوټې او ځلی په نړيدلې توګه ليدل کېږي.



د بڼوالو د اوسيدو کوټو يوې برخې انځور



د بڼ پاتې شوی ځلی (برج) د برخې انځور


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**زړه کلا:**

هغه لویه کلا ده چی د اساسي کلا  د شمال خواته موقعیت لري او په هغه کې پنځه حویلۍ د بزګرانو او ناظرانو له پاره په پام کې نیول شوې وې، په دې کلا کې درې ځلي ول چی یو یې ختیځ بل یې لویدیځ او دریم یې د ختیځ او لویدیځ تر منځه ده چی نړېدلې برخه یې اوس هم په سترګو کېږي.

دېوالونه یې پخسه، لوړوالی یې اوه متره دي، همدا راز د دیوال د ځمکی لاندې (غرقه ) اتیا سانتي متره او د ځمکي د پاسه (کرسي) یې په ځینو ځایونو کې اتیا سانتي متره او نورو برخو کې یوه متر ته رسیږي.

تیږګو ګډوله (تیږو ابادي یا سنګکاري) د غره  تیږو نه جوړه شوې ده ځرنګه چې هیڅ راز مصاله د ډبرو کار کې نه تر سترګو کیږي، دا شان ډبرو کار ته وچه تیږو ګډوله ( وچه سنګکاری) وایي.

د دیوال سور(پېړوالی یاعرض) په غرقه او کرسي کې اتیا سانتی متره ده، او د ډېر زوړ والي، دعصري تکنالوژۍ د نه شتون اوشخصي ملکیت له کبله نه شو کولای چې په هغه کې کیندنی وکړو.

د دې کلا دېوالونو د پخسې سور اتیا سانتي متره، اوچت والی (جګ والی) یې اته متره و، د وخت په تېرېدو سره دا  اندازې نه تر لاسه کیږی،  ځکه چې د ورښتونو، نه پاملرنې له کبله شړېدلې او لوېدلي دي.

ځلی یې دوه چته (منزله) در لود، مېنځ (داخل) نه یې لارې (زینې) درلودې، همدا راز د بام نه د ځلي دویم پوړ ته ختل چې له هغې نه د میلمه کوټې په توګه ګټه اخیستل کېده ، خلکو به په هغه وخت کې، ورته بالا خانه (سراچه) ویل.

دا بالا خانه له دریو خواوو نه کړکې درلودې چې د دوبې په پیلېدو سره په هغه کې ښه باد چلېده او شاوخوا د ځمکو او ونو ننداره کېده.

د ځلیو شکل (فارم یا قواره) په پلان کې اته ضلعي ده چی دایرې د منظم تقسیم سره منځ ته راغلي دي.

په دې کلا کې کوټې نه تر سترګو کیږی ځکه چې د وخت په تېرېدو، خپل منځي (داخلی) جګړو، د مالک نه اوسېدل په کلا کې، د وختو دولتونو نه پاملرنې له کبله ورانې شوي او یاهم لوټې شوي دي.



د زړی کلا انځور

که مونږ انځور ته په ځیر سره و ګورو،  په هغه کې د کوټو د چت دستک لرګیو سوري (چاپونه) او هم په دېوالونو کې د طاقچې  ځایونه  په سمه توګه لیدلی شو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ





د ځلی دیزاین، د اخیستل شویو انځورونو په پام کې نیولو سره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ



د زړی کلا انځورونه



د حشمت خان او د هغه کورنیو د اديره (هديره) انځورونه

که چېرې مونږ د حشمت خان مقبرې، هغه کورنی اديرې نه کتنه او د قبرونو ليکنې په ځير سره ولولو، مونږ ته به څرګنده (ثابته) شي چی هغه د محمد زايی د کورنی غړی او دا کلا څه باندی درې سوه و پنځوس کاله د مخه جوړه شوې ده.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ